# د درېیمه فیصله

# د ۱۳۳۶ ش

ځای: پلاز پېښور کې

د شاملېدو شمېر: ۳ تنه د افغانستان او ۲۴ تنه د پېښور پېښوریوال

www.Qamosona.com

ج - د ۱۳۳۶ شمسي کال د حمل پر ۱۱ مه او ۲۵ مه (۱۹۵۷ ع کال د مارچ ۳۱
اپریل ۱۴) د پېښور د پښتو اکاډیمۍ په لیکچر هال کښې د لرې پښتونخوا
(۲۴) تنو او د افغانستان د (۳) تنو لیکوالو تر منځ مجلس وشو
په دې مجلس کښې د ( ) لاره په اتفاق شره و ټل شول او
د پښتو لاتین توری دخینو اختلافي صورتو مسئله آینده موافقې ته
پرېښودل شوه د دې مجلس مصوبات به د (د رحیمی فیصلې) په نامه ورلندي کړو:

## اولنۍ غونډه :

دا لتوار په ورځ د مارچ د پیاشتې په یودېرشم تاریخ دا کېډمۍ د لکچر
هال کښې د ښاغلي مولانا عبدالقادر په صدارت کښې اولنۍ غونډه وشوه -
په دې غونډه کښې د بر پښتونخوا د غړتمند و سیلمنو یعنې ښاغلي گل باچا الفت
ښاغلي صدیق الله رښتین او ښاغلي قیام الدین خادم نه علاوه د پېښور له خوا
گڼو ادیبانو او شاعرانو له د شاملېدو دعوت ورکړی شوی وو -
کوم گران ادیبان چه په جرگه کښې شامل وو، د هغوی نوموڼه دا دی :
ښاغلي عبدالخالق خلیق، فضل حق شیدا، قاضي احمد سعید، ایم ای عبدالشکور،
دوست محمد خان کامل، اجمل خټک، میان محمد شاه خیال، ماسټر عبدالکریم خان،
پروفیسر نور احمد خان، پروفیسر ډاکټر سنور خان، رشید علي دهقان،
حکیم محمد اسلم سنجری، نصر الله خان نصر، الحاج خانمیر هلالي، عبدالستار کاتب،
د اکېډمۍ د طرفه نه کښې ډاکټر سید انوار الحق، پروفیسر محمد اکبر خان،
سید عظیم شاه خیال، قاضي هدایت الله، فضل ودود خان کاتب،

خ

مولوی محمد اسرائیل، عبدالرحمن شباب، بیان شنا والدین،
او محمد اسحق صاحب کندهاری وو.

په دې غونډه کښې په دې برو مشکلو خبرې اترې او په شپږو شپږو
بحثونه وشول، خیال نظاری دوره وښې نه چینې لیکلی سوالات
راجع کړی راوړی وو چه د هغو تفصیلی ذکر دلته هیڅ فائده نه لري
خو دا دي لاندې لیکلي شوي خبرې فیصله وشوه :

۱- د چاپ دپاره دې خط نسخ وی، خپل ذاتی خط کتابت او مسودې
وغیره دې بې شکه په نستعلیق کښې وی.

۲- د پښتو څلور مخصوص توری یعنې ځ، څ، ږ، او ښ دی لکه څنګه چه
ننصباح مروج دی هغه شان دی وی.

۳- د پښتو ټ، ډ او ړ دې هم په ځوانی شکل یعنې په کښه ه
لیکلی شی او په دې شکل یعنې «ټ - ډ - ړ» دی نشی لیکلی.

۴- د هغې (ھ) څوه مرکب توری (لکه بھ - پھ - تھ - ټھ - جھ -
چھ، کھ - گھ وغیره) نه دي (ھ) وغورزولی شی - ځکه چه دا
توری د پښتو په الف بی تی کښې نشته - د هغې داسی تکی چه دا
توری پکښې راغلی وی بې د (ھ) نه دي لیکلی شی - لکه: شیک،
چتری - پراته - چکره - کمری او داسی نور.

۵- د لاتینی (روس) الف بی تی اهمیت و منلی شو او د ونی ژبائی
د ضروریاتو او تقاضو په خیال دا فیصله وشوه چه یوه وړه جرګه
د پښتو د توړو دپاره په لاتینی الف بی تی کښې د پښتو مخصوصو

## دوهمه غونډه :

دافغانستان او پاکستان د ادیبانو، شاعرانو

او علماؤ دوهمه غونډه :

د اپریل د میاشتې په څورلسم تاریخ د اتوار په ورځ د اکیډیمۍ په کلچرهال کښې د مولانا عبدالقادر په صدارت کښې وشوه - دا ځل هم ګڼو عالمانو او ادیبانو ته بلنه ورکړې شوې وه خو دالاندیني کسان په روژه خوله راغلي وو :

ښاغلي عبدالخالق خلیق، شید راحت زاخیلي، قاضي احمد سعید، دوست محمد خان کامل، سمندر خان سمندر، اجمل خټک، میان محمد یوسف، مولانا عبدالقدوس، پروفیسر ډاکټر نور احمد خان، رشید علي دهقان، میر مهدي شاه مهدي، ارباب عبدالغفور خان، ارباب سکندر خان، محمد افضل خان بنګښ، نصرالله خان نصر، شید انوار الحق، پروفیسر محمد اکبر خان، شید عظیم شاه خیال، قاضي هدایت الله، مولوي فضل ودود خان، مولوي محمد اسرائیل، عبدالرحمن شباب، میان ثناء الدین، او محمد اسحق بخاري - حصه واخستله :

د جرګې ابتدا د قرآن مجید په تلاوت وشوه - بیا شید خیال د تیرې غونډې منظور شوي تجویزونه واورول، او د روانې غونډې د تجاویزو په حقله ئې د قاضي احمد سعید نوم پیش کړو - چه هغه دی دورې د جرګې د مشر په حیثیت د دغې جرګې تجویزونه وړاندې کړي.

قاضي صاحب چه کوم تجویزونه پیش کړل - په یوغږ کښې په هر یو باندې

گرم گرم بحثونه وشول - او دا فیصلې وشوې :

۱- : د پښتو الف ، بې ، تې کښې دې د عربۍ هغه توری (یعنی ث ،

ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ق ) چه اوس هم رائج دی په خپل

ځای وی - خو دا توری به تش د عربی په الفاظو کښې استعمالیږی

او د پښتو په الفاظو کښې به نه استعمالیږی .

۲- : د ټ ، ډ ، او ړ په کښته ی شره لیکلو باندی یو لنډ بحث

بیا گرم شو او د هر خیال د طرفدارو د بحث نه پس پری رائې

واخیستلی شوه - اکثریت د زور دو د یعنی په کښته باندی د لیکلو طرفدارو.

۳- د عربی کوم تکی چه په پښتو کښې مروج دی - هغه دی په خپل اصلی

شکل لیکلی کیږی - لکه قمیص - قصه - ظالم - صمد او داسی نور

خو یو څو تکی د دې اصول نه مستثنی وگرزولی شول - لکه : واخلی -

تپوس ، ایسار - اورس - لاتمیں - بام - تاخ ، امریان دریان

دیوځائی ) شمکور - بخمل او وخت او دغسی نور .

۴- د پښتو د ځېنو تکو په لیک کښې دی اول صوت ( ږ غ ) ته بیا

دریشی او گرامرته وکتی شی .

۵- " " دی د زور کی د پاره استعمالیږی - لکه : زمره - تله - دمزان )

۶- د پښتو د مخصوصو توړو د نو سونو په حقله دا فیصله وشوه - چه د برخوا

خلق دی وړته ، ژې - سی - ژی او ښې وائی - او د لرغاړی

او شید ونکی دی ژیم - شیم - گی او خین وائی .

۷ - دګاف دګشو نو یا ګنډي په حقله هم فیصله په رای شماری کډ وشوه .

او دګنډي دلیکلو طرفدار زیات وختل .

۸ - دحرکتو نو په حقله تجویز ونه :

۱- زور - زیر او پیښ لکه چه پخوا داسی مستعمل دی همغسی به

مستعمل وی - خو که دیو تکی په آخری توری زور راغی نو د زور

په ځای به های مخفی راوړه ی شی - لکه ځکه ، زمه - دغه شان

که دیو تکی په آخری توری زیروی - نو دا هم په (ی) بدلیږی -

لکه چې - شری .

دب ، الف به هم په دغه شان استعمالیږی لکه چه تر اوسه استعمالیږی

(ج) مد (ـــ) دا حرکت تش دعربی تکو کښی راځی - دپښتو

تکو کښی نشته .

د - دواؤ په حقله بنا علی احمد سعید لاندی لیکلی شوی تجویز ونه ورلاندی کړل

(۱) غل - ګل - دا حرکت دی تش په پیښ شره ښودلی شی .

(۲) لور - ګور (خانه) شور - (تش داؤ بی له څه نخښی نه )

(۳) توره - تالو - په ما قبل توری دی ~~[illegible]~~ پیښ ورکړی شی .

(۴) لو - یو - په ما قبل توری دی زور ورکړی شی .

او د واؤ کم شکلونه چه بنا علی رښتین ورلاندی کړل سیغه دادی :

(۱) غل - ګل (تش په پیښ شره )

(۲) ګوډ - زانګو (د واو د پاسه یو بل امدولی واؤ چه په عربی کښی د "ؤ"

آواز ورکوی .

(۴) یو - لو (د واو د پاسه اړولی غږ وندی)

فیصله داوشوه چه دواړه شکلونه دي او لس، نه وړاندې کړی شي -

چه په کومو شکلونو اتفاق راغی هم هغه دی رائج کړی شي.

(ب) ز یو کوتا - لکه تجارت - صفت - ز بنتین - (دا ز په پښتو کښې نشته)

(س) د معروفي او مجهولي (ی) ګانو په حقله هم اتفاق راغی خو هغه شکلونه

چه قاضي صحب او رښتین صحب وړاندې کړل لاندې جدا جدا سره د مثالونو راوړلی کیږي

د قاضي صحب پیش کړی شکلونه:

(۱) ی ویر - لیدل - ښادی - (عامه غونډه یا معروفه ((ی)))

(۲) ی - جینئ - څوکئ - (د زوړ همزه په ځای په ماقبل تورې زور)

(۳) ے - سړے - زمرے - (په ماقبل باندې زور)

دلے - ارے - (خالی اوزده (( ے )) بې له هیڅ قسمه نخښې)

دوارو مثال :- سړے - سړي او بد چینی -

لکه دا (ے) دیو ټکی منځ کښې راشي نو لاندې باندې ټکي (نقطي) ورکولی شي

لکه: ځیرنه - تیل - ببر (چاکر) - دغه یې ګانې ښامی رښتین

په دا سې تشکیل کښې پیش کړې.

(۱) سړی - زمرے - (معروفه (ی) بې له څه نخښې نه)

(۲) سړی - (ني) تخته (معروفه دی) چه ټکی (نقطي) لاندې باندې لري.

(۳) ویر - لیدل - ښادی (معروفه (ی) خو متوازي یا دوه ټکی (نقطي)

(۴) جینئ - څوکئ (د همزه په ځای د (ی) تاو کړي لکه)